## یوچیان یا کوشانیان:

د چین د بوال په بشپړېدلو سره دغسې پېښې په یوې بلې پسې وشوې، چې له امله یې تر باختر او هند پورې ډېر ولسونه له خپلو مېشت ځایونو نه بېځایه شول. په پیل کې هونانو په مخزېږدې ۱۷۷ کې د لویدیځې کانسو (Kansu) په یوچیانو (Yue Chih) ودانګل او هغوی یې اړ کړل، چې د لویدیځ پر لور کوچ وکړي. د دوی وړه ډله یا واړه یوچیان د تبت شمال ته او لوی یوچیان منځنۍ اسیا ته د ایلې درې ته وکوچېدل. څو کاله وروسته یوچیان د هونانو او ووسون (Wusun) قوم په ګډه ون مجبور شول د جنوب په لور مخه وکړي او د خپلې مخې کوچي قومونه پر ارته اړ کړي. په دې ډول د تارم سیمه د لومړي ځل لپاره د ترکمن-مغلي قوم هان شوه[۹۷]. د دغه حرکت په لړ کې یوچیانو د ساکا په قومونو باندې لنګر واچوه او سغدیانه یې ترینه ونیوله او د ساکا قومونه له آمو نه تېر شول او باختر یې ترلاسه کړ. په دغه وخت کې په یوچیانو او ساکا پورې اړوندې پېښې رڼې نه دي، خو دغومره څرګنده ده چې ساکي قومونو باختر د هغه له واکمن هلیوکلیس (Heliocles) نه د مخزېږدې ۱۴۰ او ۱۳۰ کلونو ترمنځ ونیوه او د آی خانم ښار پاچایي مانۍ یې په ۱۴۵ کې وسوزوله، په داسې حال کې چې یونانې

او سپېدونکي يې له ښار نه د مخه وتلي وو. د شاوخوا محلي خلکو د ښار ودانۍ ونيولې او د پرار شويو شتمني يې خپلې کړې. څه وخت وروسته د چيني ترکستان يوچيانو هم په آی خانم ودانګل او وران يې کړ. يوازې په غونډۍ باندې د آی خانم حصار پاتې و، چې په هغه کې د تيموريانو تر وخته پورې ژوند کېده[٩٨].

ساکي نامتو قومونو، چې باختر لاندې کړ د سترابو د ليکنې له مخې دا دي: آسي (Asii) يا اسيويي (Asioi)، پاسيه نوی (Pasionoi)، توخاروی (Tokhario) او ساکارالای (Sakaraulai). دوی ټول د سردريا (Jaxartes) د شمال له ملکونو څخه وو. يوازې توخاروی د يوچيانو زړی شمېرل کېدلی شي[٩٩]. د امو سين شايد په همدغه وخت کې د ساکا د يوه تبر هاما ورګه څخه د هامو يا آمو په نامه ياد شوی وي. آمو يونانيانو د مخه له وخش نه (Wakhash) څخه په اکسس (Oxus) اړولی و[١٠٠].

يوچيانو هم په خپلې نوې مېنې سغديانه کې ډېره تو ختنه ونکړه، په مخزېږدې ۱۲۲ کې له آمو نه تېر شول، آی خانم يې نور هم وران کړ او باختر يې له ساکا قومونو نه ونيوه. زياتره ساکا بيا په درنګيانه او اراکوزيه ورښکته شول په کومو کې چې ساکا د مخه مېشته شوي وو. درنګيانه د ساکا په مېشته کېدلو سره اول په ساکستانه او بيا په سيستان ياد شو او سيستان د دوی دايمي هېواد

SABAWOON.COM

Web Publication www.sabawoon.com - All Rights Reserved by Prof. M. Hassan Kakar PHD

شو. ساکاوو وروسته کابل او پنجاب هم لاندې کړ او کله چې په هند کې یوچیان پرې لاس بري شول، دوی بیا مالوان او ګجرات ته لاړل او هلته یې تر زېږدي ځلورمې پېړۍ پورې واکمني وکړه(۱۰۱).

په باختر کې د یوچې د لوی ټبر پنځه څانګې ځای پرځای شوي وي، دوی چې په اصل کې سپین پوټکی اریایي وو، د ساکا لوی ټبر ته منسوب وې. د هرې څانګې مشر یابغو (**Yabghu**) په خپلو یوچیانو، باختریانو او یونانیانو باندې واکمني کوله. باختر دوی سره وېشلی او د ځایي مشرانو په مرسته یې اداره کاوه. څه باندې نیمه پېړۍ وروسته د زېږدي لومړۍ پېړۍ په نیمایي کې د کوی- شانګ (**Kuei-Shaung**) د څانګې مشر، کجولو کدفیزس وکولی شول د دغو څانګو مشران سره یو موټی کړي او د یوه دولت بنسټ کښېږدي. له هغه وروسته دغه دولت د نورو ملکونو په لاندې کولو سره د کوشان امپراتوري شوه. پاچا کدفیزس وروسته د هندوکش په سهیل کې کي پن (**Ki-Pen** کاپیسا)، کاوفو (کابل) د یونان-باختري وروستی پاچا هرمایوس (**Her maeus**) او غزني او داراکوړني شمال سیمې له پهلو ایاونه ونیولې (هندیانو پارتان د پهلواها په نامه یادول). هرمایوس د هندوکش په سهیل کې د یونان-باختري دولت وروستی پاچال ګڼل کېږي. کدفیزس تر اباسین پورې ټولې سیمې

SABAWOON.COM

لاندې کړې او وروسته له ۳۸ کلونو پاچايي نه مړ شو. دده د دورې سکې دغومره ډېرې دي، چې ځينې د هغو له مخې وايي چې دده د واکمنۍ موده اتيا کاله وه. دده لمسی پاچا ويماتاکتو (Vima Taktu) په خپلو سکو کې خپل ځان "ستر ژغورونکي "(Store mergas) ښوولی(۱۰۲). د کوشاني پاچايانو ډېر نوميالی کنشکا نومېږي، چې امپراتوري يې له ګنګا نه نيولې تر تارم حوضې پورې غزېدلې وه. په لويديځ کې يې پارتيه ګاونډۍ وه، خو سرحدونه يې چې د سکندر له امپراتورۍ نه وروسته ډېره پراخه امپراتوري وه د هر پاچا په وخت کې ناټاکلي او د تغيير په حال کې وه. د کنشکا پای تخت په ژمي کې پوروشاپورا (پېښور) او په اوړي کې باګرام و. د کنشکا په وخت کې بودايي دين د ننه په امپراتوري کې ښه خپور شو او د مذهبي مبلغانو له لارې يې چين ته هم لار وموندله. دغه ډېره پراخه امپراتوري د کنشکا کورنۍ د پاچايانو په وخت کې د سوداګرۍ په ښې پرمختيا سره په ښه حال وه. په تېره د پاچا هوشکا (Huviska) په وخت کې چې ممکن د خپل عظمت هسکې ته رسېدلې وه، خو د پارس د ساساني امپراتورۍ مؤسس اردشېر په ۲۲۶ زېږدي د کوشاني پاچا واسيوډېوا ته ماتې ورکړه او په دې ډول يې د کوشاني واکمني ختمه کړه.